
د ښځو د سولې لنډیز – د ۲۰۲۰ کال د سپټمبر میاشت

د بندیانو د تبادلې په اړه د افغان ښځو نظرونه

لنډیز:

- **۱،۰۵۹ ښځو چې عمرونه یې له ۱۸ څخه تر ۳۵ پورې وو له هرات، بلخ، ننګرهار، هلمند، تخار، بامیان او کندهار ولایتونو څخه د افغان دولت او طالبانو ترمنځ د بندیانو د تبادلې په اړه د ۲۰۲۰ کال د سپټمبر میاشتې د ښځو د سولې لنډیز لخوا یوه نظرا خیستنه کې ګډون وکړ.**
- **٪۷۵ ګډونوالې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د بندیانو د تبادلې له هوکړې څخه خبرې وې.**
- **٪۷۶ ګډونوالو د افغان حکومت لخوا د خبرو اترو له پیل څخه د مخه د ۵۰۰۰ طالب بندیانو له خوشې کېدنې سره مخالفت وښود.**
- **٪۶۳ ګډونوالو وویل چې د بندیانو تبادله به د تاوتریخوالې په کچه کې کموالی رامنځته کړي.**
- **٪۹۷ ګډونوالو وویل چې دوي د دې په اړه اندېښمني دي چې طالب جنګیالي به له خوشې کېدو وروسته بېرته د جګړې ډګر ته وروګرځي.**

شالید او د سروې پوښتنې: په تېرو څلورو میاشتو کې، د افغانستان دولت او طالبانو بندیان سره تبادله کړې دي. دا د دېرو په اند د ښه نیت او باور جوړولو په لوړې یو مهم ګام دی په دې هیله چې دا وکولای شي په تاوتریخوالي کې د کموالي او بالاخره د اوربند لامل وګرځي. افغان حکومت د طالبانو لخوا نیول شوو ۱۰۰۰ تنه دولتي بندیانو د خوشې کېدنې په بدل کې د ۵۰۰۰ طالب بندیانو د خوشې کولو هوکړه وکړه. د آګسټ په لومړیو کې، د حکومت لخوا د طالبانو ۴،۶۰۰ بندیان خوشې شول او د دولت په بند کې پاتې ۴۰۰ تنه یې په لویو او وژونکو بریدونو کې په ښکېلتیا باندې تورن دي. حکومت د آګست میاشتې په منځنیو ورځو کې لویه جرګه راوبلله او د حل لاره یې د ۴۰۰ بندیانو خوشې کېدل وګڼله چې دا یې د طالبانو او افغان حکومت تر منځ د مستقیمو خبرو اترو پر وړاندې وروستی خنډ وګاڼه. اوس چې پاتې بندیان خوشې شوي دي، کېدای شي چې په همدې میاشت کې مخامخ خبرې اترې پیل شي.



له ولایتونو څخه نظرونه: له هغو ۷ ولایتونو څخه چې سروې پکې وشوه، ۸ تنو ښځو د تاوتریخوالي د کموالي په اړه خپل نظرونه شریک کړل

نسیمه، ۱۹ کلنه، له ننګرهار ولایت څخه: "د طالبانو خوښې شوي بندیان هېڅکله د ښځو د حقونو پلویان نه وو. طالبانو هېڅکله نه غوښتل چې ښځې خپل حقونه او آزادي ولري. هغوی د ښځو د حقونو پر ضد دي. زمونږ په سیمه کې امنیت شته، او دا یوازې له دې امله ده چې زمونږ سیمه د حکومت تر کنټرول لاندې ده. خو د بندیانو تبادله په هغو خلکو باندې چې په ولسوالیو کې اوسېږي، ډېره منفي اغېزه لري، ځکه چې بې امنیتي، ځانمرګي بریدونه او چاودنې په ولسواالیو کې زیاتې شوې دي. نن په چېرهار ولسوالۍ کې مورږ د یوې چاودنې په اړه واورېدل چې درې کسان یې ټپي کړي دي. مورږ هره ورځ په ولسوالیو کې د داسې پېښو شاهدان یو او دغه شان پېښې ورځ په ورځ د زیاتېدو په حال کېدي."

فاطمه، ۲۶ کلنه، له بامیان ولایت څخه: "د طالب بندیانو خوښې کېدل په افغاني ټولنې باندې منفي اغېزه لري او ښځې خو لا زیاتې اغېزمنې دي. دا د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د زیاتېدو باعث کېږي. دا به د ښځو په ذهني امنیت باندې هم اغېزه وکړي. د ښځو په زده کړو باندې منفي اغېزه وکړي. د ښځو آزادي به محدوده شي، ولایتونو او نورو ملکونو ته د هغوی سفر به منع شي، او د هغوی د کار کولو آزادي به محدوده شي. په ټوله کې به ښځې ډېرو ستونزو سره مخ شي، ځکه چې په افغانستان کې ښځې په ټولنه کې تر ټولو زیاتې زیان منونکې دي. دا هغه عوامل دي چې پر افغان ښځو باندې به منفي اغېزه ولري."

بهناز، ۲۳ کلنه، له هرات ولایت څخه: "د طالب بندیانو خوښې کېدنې ته چې له هر اړخه وګورم، دا وایم چې زمونږ په ټولنه کې به ښځو ته ډېرې ستونزې رامنځته کړي. له بده مرغه، طالبان د خپلو افکارو او ذهنیت له مخې د ښځو پر وړاندې لوړه کچه تاوتریخوالي اعمالوي. طالبان غواړي چې ښځې تر خپل آیډیولوژیکي کنټرول لاندې راولي او دا داسې یوه مسئله ده چې زمونږ په سیمه کې او په ټول افغانستان کې یې په ښځو باندې اغېزه کړې ده."

ناهیده، ۲۳ کلنه، له کندهار ولایت څخه: "زما په نظر، د طالبانو خوښې شوي بندیان په دوه ډولونو باندې وېشل کېدای شي: (۱) ملکیان او (۲) غیر ملکیان یا جنګیالي. هغه طالب بندیان چې ملکي وکړي دي، د دې هېواد او د هغه د اوسېدونکو په وړاندې یو ډول همدردي لري، خو غیر ملکي طالبان هېڅکله د یووالي او سولې پلویان ندي. په کومه ولسوالۍ کې چې زه اوسېږم، خلک په ځانمرګو بریدونو کې وژل کېږي او ټپي کېږي، او مورږ نه پوهېږو چې د دغو بریدونو تر شا څوک دي (ملکي که غیر ملکي طالبان). له دې کبله، د طالب بندیانو خوښې کېدنه به د هغوی د ډول له په پام کې نیولو څخه پرته، زمونږ په ټولنه کې پر ښځو باندې منفي اغېزه ولري.

معصومه، ۳۸ کلنه، له هملند ولایت څخه: "طالب بندیان د پیسو په ورکړې او لوړ مورال سره خوښې شول، او زه له دې څخه شکایت لرم چې حکومت ځنګه کولای شي داسې بندیان خوښې کړي او باور او ډاډ یې هم زیات کړي. هغوی د ډېرو کلونو لپاره په زندان کې وو او ډېر جرمونه یې ترسره کړي دي. حکومت ولې دا کار کوي؟ دا د دې ښکارندوی دی چې حکومت طالبانو ته پیسې ورکوي او باور یې لوړوي تر څو نور جرمونه او ځان مرګي بریدونه ترسره کړي. همدا چې طالبان خوښې شول، د کندهار-کابل یا غزنی-کابل په لویې لار له یوه موټر څخه ۲۰ تنه ښځې راښکته کړل شوې. آیا دا طالبان نه وو؟ او که حکومت وو؟ د دغو ۲۰ ښځو په منځ کې، هغوی په یوې ۱۰ کلنې جینۍ باندې جنسي تېری وکړ. آیا دا طالبان نه وو؟ او که ته وې، زه هم، یا حکومت وو؟ څوک وو؟ دا طالبان وو. له دې کبله، زه د حکومت لخوا د طالبانو له خوښې کېدنې او د نورو جرمي اعمالو او تاوتریخوالي ترسره کولو ته هڅولو سره په شدت مخالفت لرم. دا زما لپاره او هرې بلې ښځې لپاره تر ټولو ترخه او دردوونکې خاطره وه چې په یوې ۱۰ کلنې جینۍ باندې جنسي تېری وشو."

صالحه، ۴۶ کلنه، له تخار ولایت څخه: "تر دې دمه کومه اغېزه نه لیدل کېږي. د دې جګړې پای هم نرانو او ښځینه وو ته له ځانه سره آرامي راوړي. پر دې سربېره، د افغانو ښځو د کلونو لاس ته راوړنو او په ټولنه کې د هغوی د مقام ساتل به د ښځو لپاره د کار فرصتونه او آزادۍ برابرې کړي. د دې تر ځنګ، هغه افغاني میندې چې زامن یې طالبانو بندي کړي دي، که یې زامن خوښې شي او طالبانو سره جګړې ته ونه هڅول شي، دا میندې به آرامش ترلاسه کړي. کله چې سوله راشي، ښځې به په ټولنه کې تر دې زیات کټور نقشونه ولوبوي."

معصومه، ۳۱ کلنه، له بامیان ولایت څخه: "پرته له کومه شرطه د ۵۰۰۰ طالب بندیانو خوشې کېدل د اندېښنې وړ دي، ځکه چې دا د منلو وړ نده چې هغوی به د جګړې ډکر ته بېرته و نه ګرځي. هغوی د هېواد په ګوټ ګوټ کې لسګونه زره ځوانان وژلي او زرګونه ښځې يې کونډې کړې دي. له دې کبله، ښځې له هغه تاوتریخوالي، ظلم او استبداد څخه وېرېږي چې د طالبانو له امله يې زغملي دي. موږ ټول د دې شاهدان يو چې د هغوی له خوشې کېدلو وروسته نه يوازې دا چې په افغان حکومت، افغان امنیتي ځواکونو او افغان ولس باندې بریدونه نه دي کم شوي، بلکې د تاوتریخوالي کچه کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی او دا د افغانستان ټولو خلکو لپاره، په خاصه توګه د افغان ښځو لپاره د اندېښنې وړ ده. په بامیان کې ښځې اندېښنه کې دي ځکه چې کوم تضمین نشته چې دغه بندیان به بیا تاوتریخوالی نه اعمالوي. د بېلګې په توګه، بامیان چې د افغانستان د تر ټولو امنو ولایتونو څخه دی، خو د کابل-بامیان په لویه لار باندې د امنیتي ځواکونو په پوستو باندې بریدونه وشول او دا ټولو ته د اندېښنې وړ ده، په ځانګړې توګه ښځو او د هغوی لاسته راوړنو ته. که همداسې دوام ومومي، د بامیان لپاره دېره د اندېښنې وړ ده او موږ په دې باور یو چې ټولې وروستۍ پېښې، پرته له شرطه د طالب بندیانو د خوشې کېدو له امله دي."

ژیلا، ۵۰ کلنه، له بلخ ولایت څخه داسې وایي: "په افغانستان کې ښځې پوهې او زړورې دي او تل غواړي چې له جګړې او بدبختیو څخه خلاص افغانستان کې ژوند وکړي. سره له دې، ټول بندیان افغانان دي؛ هغوی د افغان ښځو او میندو زامن، وروڼه یا مېړونه دي. د بندیانو تبادله ډېرې افغاني کورنۍ او ښځې خوشاله کوي، خو له دې سره هم مهاله د هغوی خوشې کېدل به د هغو کسانو لپاره چې خپل زامن، وروڼه او مېړونه يې له لاسه ورکړي دي، زوروونکي او ناهیلې کوونکي وي. زما په اند، که چېرې دغه بندیان ژمن وي چې تاوتریخوالی، وژنې او نور جرمي اعمال ترسره نه کړي، نو باید وکولای شي چې آزاد ژوند وکړي."

میتودولوژي: د "واوره" د سروې پوښتنې هغو بحثونو ته په کتو سره جوړېږي چې د خبرو اترو پر مهال ترسره کېږي. څېړونکي هره میاشت، د Likert میتودولوژیکي تکلارې په کارولو سره څلور ټرلې پوښتنې (Close-ended) او یوه خلاصه پوښتنه (Open-ended) چې سروې کوونکي يې (د ګډونوالو د موافقې له ترلاسه کولو وروسته) په خپلو ټلیفوني سروې ګانو کې کاروي او د سولې تسهیلوونکي يې په ولایتونو کې د مخامخ سروې ګانو لپاره کاروي. وروسته له هغې، د ټلفوني سروې ګانو او مخامخ سروې ګانو موندنې راغونډېږي او کلیدي موندنې ریې راټولېږي تر څو په متمرکزو ډله ییزو بحثونو کې، چې تر دې وروسته د ټولنې له ښځینه مشرانو (د "واوره" ، د ښځو د سولې د کړیو غړو) سره ترسره کېږي، په پام کې ونیول شي. "واوره" ، د راټولو شوو غږونو د مثلث له لارې ډاډ ترلاسه کوي چې خپلې موندنې د بیلابیلو میتودولوژیکي تکلارو په آزمایلو سره چک کړي تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې دغه موندنې شته حقایق منعکس کړي. وروسته له دې دغه موندنې د ښځو د سولې په یو لنډیز کې راغونډېږي چې "واوره" يې نه یوازې د خبرواترو لوړیو او د سولې په بهیر کې ښکېلو مرستندویانو ته، بلکې بېرته يې (د تایید د کړۍ له لارې – feedback loop) سروې شوو ځواب ویونکو ته هم لېږي تر څو هغوی د هېواد په ګوټ ګوټ کې د ښځو له نظرونو څخه خبر شي.

د "واوره" په اړه: "واوره" یو نوښت دی چې د افغاني ټولنې له بیلابیلو برخو څخه د سولې روانو خبرواترو پورې اړوندو مسائلو په اړه د ښځو نظرونه راټولوي او دغه نظرونه د خبرواترو له مېز، د سولې په بهیر کې له ښکېلو مرستندویانو، د مدني ټولنې بنسټونو او عامو خلکو سره شریکوي. پر دې سربېره، "واوره" په لومړۍ رده - Track I کې له شته ښځو سره د خپلو موندنو په شریکولو سره هغه ته دا ورتیا ورکوي چې د ولس په منځ کې د ښځو اوچت شوي غږونه خبرو اترو ډلو ته ورسوي. د بدیل په توګه، د "واوره" یو مهم فعالیت دا دی چې د خپلې سروې موندنې د پیغامونو د ټکنالوژۍ –SMS له لارې بېرته له هغو کسانو سره شریکې کړي چې سروې يې شوې ده، او پدې توګه په دې بهیر کې له هغوی سره د ذینفعانو /شریکانو په شان چلند کوي.